مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۸/۲۵

# له بهرامه ښادي حرامه

د طالبانو د امربالمعروف و نهی عن المنکر وزارت د خوست په ولایت کې رسنیو ته ویلي دي چې د نجونو لپاره له شپږم ټولګی پورته د زده کړو پروګرامونه ودروي. د تاند ویبپاڼي د شنبې په ورځ لیکلي دي چې په خوست کې د راډیوګانو چلوونکو د تاند په شمول بېلابېلو رسنیو ته ویلي دي چې دوی ته د امربالمعروف کسانو د پنجشنبې په ورځ وویل چې نور له خپلي راډیو څخه له شپږم ټولګی پورته د زده کړو پرو ګرامونه خپاره نه کړي.

طالبانو واک ته له رسېدلو سره سم د نجونو لپاره له شپږم ټولګی پورته تعلیم بند کړ؛ او کله چې له پوښتنو سره مخامخ سول نو دوی وویل چې د نجونو لپاره له شپږم ټولګی څخه پورته ښوونځي بیرته پرانیزي خو تر امر ثاني پوري به دا ښوونځي تړلي وي. د بشري حقوقو او د نن عصر د تمدن د دې ضد اقدام درې کاله پوره سول او څلورم کال را نوی سو خو امرثاني لا نه دی را رسېدلی او که یې  څوک لا هم تمه لري نو تمه یې بېځایه ده.

له مدني آزادیو څخه د ښځو د مطلق محرومیت او له زده کړو څخه د نجونو د بې برخي کېدلو ترڅنګ، د ملګرو ملتونو د احصاییو له مخي، د افغانستان تر نیمایی زیات نفوس بېکاره او له لوږي سره مخامخ دي. د تاند ویبپاڼي د شنبې په ورځ د طالب چارواکو له قوله لیکلي دي چې د ننګرهار ولایت د سرخ رود په اولسوالي کي شاوخوا شپږ زره ماشومان په سخت کار بوخت دي. ویبپاڼه لیکي چې دا ماشومان د سرخ رود اولسوالی د خښتو په بټیو کي کار کوي او ډېری یې ډېر لږ معاش ترلاسه کوي. ویبپاڼه زیاتوي چې د دې ماشومانو یو شمېر له لسو کلونو کم عمرلري او له خپلو کورنیو سره د مرستي لپاره له زده کړو څخه بې برخي دي.

افغانستان ته له امریکا او اروپا څخه تللي افغانان، چي جېبونه یې له یورو او ډالرو ډک وي، میاشت نیمه په مېلو او سات تېریو او بامیان، هرات، بدخشان، نورستان، کنړ او پنجشیر ته په سفرونو تېري کړي او کله چي بیرته غرب ته ستانه سي نو بیا اکثر د طالبانو په صفت نه مړیږي. وایی په هر ځای کي د شپې او د ورځي آزاد ګرځېدلو او لا به طالبانو هر ځای پوښتني راڅخه کولې چي انشاءالله په تکلیف سوي خو به نه یاست. ما ځینو ملګرو ته د اُردو ژبي هغه متل تېرکړی دی چي ( هاتي کي دانت دیکاني کېلیې اور کاني کې لیې اور هېن) یعني پیل د ښکاره کولو لپاره بېل غاښونه او د خوړلو لپاره بېل غاښونه لري. طالبان پوهیږي چي له خارج څخه ورغلو افغانانو سره څرنګه سلوک وکړي او په داخل کي اوسېدونکو افغانانو سره څرنګه سلوک وکړي. طالبان چي له خارج څخه ورغلو افغانانو باندي پوښتنه کوي او هغوی ته وایي چي چا خو به تکلیف نه وي درکړی؛ د پوهنتون پر هغو سپین ږیرو استادانو یې هم پوښتنه کړې ده ؟ چي خوشبخته کسان یې رېړی چلوي او بدبخته کسان یې جوالي ګري کوي. دوی پر هغو متقاعدو مامورینو، صاحب منصبانو او معلمینو باندي هم پوښتنه کړې ده چي له دریو کالو راهیسي یې د هغوی پر حق باندي پښه ایښې او تقاعد یې ورڅخه قید کړی دی او دا سوال یې په زړه کي نه ورګرځي چي دا بېچاره ګان خو عیال داره دي هغوی او ماشومان به یې څه خوري. خو چي له هر طالب څخه پوښتنه وکړې وایی دا ټول مشکلات به حل سي. کله به حل سي؟ په دې یوازي خدای تعالی پوهیږي. خو زموږ عقل راته وایي چي که دامشکل تر اوسه حل نه سو تر قیامته به څکه حل نه سي چي څوک یې د حلولو خیال نه لري.

زموږ ځیني غرب نشینه افغانان او پوهان لا هم په دې عقیده دي چي له طالبانو سره باید تعامل وسي. هغوی باید تجرید نه کړل سي او هغوی باید کرار کرار خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کړل سي څکه چي د افغانستان زاړه دښمنان او جنګ سالاران په کمین کي ناست دي او له خدایه غواړي چي طالبان کمزوري او دوی ته بیرته د راتګ ،جنایاتو ، غلاوو  او غصبونو زمینه برابره سي. دا پوهان او غرب نشین کسان یا ځانونه غولوي او یا ریشتیا هم په دې عقیده دي چي طالبان بېچاره ګان نه پوهیږي. موږ په اصطلاح منورین ( چي طالبان یې اصلاً په انسانانو کي نه بولي او که یې په سړیو کي وشمېري نو لږترلږه په مسلمانانو کي یې نه بولي) باید طالبان خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کړو.

ماته خپل یوه ډېر پوه ملګري پرون سهار ټلفون وکړ او ماته یې وویل چي هغه پخپله کابل ته تللی وو او له ملایعقوب، ملامجاهد، ملاسراج الدین حقانی او ځینو طالب مشرانو سره یې وکتل. هغوی ورته وویل چي دوی د نجونو له زده کړو سره هیڅ مخالفت نه لري خو په کندهار کي یوه وړه حلقه ده چي د مولوی هبت الله پر شاخوا را ګرځېدلې ده او هیڅ ډول اصلاحات نه مني. زما ملګري زما څخه وغوښتل چي که زه د یوه هیات په رأس کي افغانستان ته سفر وکړم او هلته له طالب مشرانو سره وګورم او که امکان ولري چي ملاهبت الله هم ووینم او خپل نظریات ورته ووایم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا کار که ډېره ګټه ونه کړي نو تاوان خو هیڅ نه لري. ما ورته وویل چي زما ګرانه دوسته! طالبان ټول له یوې چیني اوبه چښی. طالبان ټول یو رنګ دي. په طالب کي ښه او بد نسته. هغه کسان چي تا ورسره لیدلي او ستا یې تود هرکلی کړی دی هغوی له ټولو هغو کسانو سره چي له غرب څخه ورغلي وي همدغه راز ښه سلوک کوي. که طالبانو د قدرت له لومړۍ ورځي څخه، چي دوی وایی موږ په توره نیولی دی او بل چا ته د ګډون حق نه ورکوو، بیا تر نن پوري یو اصلاحي ګام پورته کړی وي نو سړی به د خیر تمه ورڅخه وکړي او که چیري دوی هره ورځ یو او دوه ګامه شاته ځي نو سړی ولي د اصلاح په نیت ورسي؟

ما پخوا هم لیکلي دي او بیا هم لیکم چي « الحکم یبقی معی الکفر و لا یبقی مع الظلم» د کفر حکومت دوام کوي مګر د ظلم حکومت دوام نه کوي. خلک تر قیامته د بېکاری، لوږي او بې عدالتی تاب نه لري. یوه ورځ به طالبان د اولسونو له قهر سره مخامخ کیږي. له اولسونو سره، د بشریه ټول تاریخ کي، هیڅ قدرت مقاومت نه دی کړی او دوی به هم د اولسونو په زور سقوط کوي. او لکه پخوا چي مي ویلي دي یو ځل بیا وایم چي قهري سقوط د هیچا په ګټه نه دی بلکه د ټولو په تاوان دی.

[په افغان جرمن آنلاین پورتال کی د لیکوال آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ